خانه نو    نوی کور

**New Home**

ISSUE 106   JANUARY 2025

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture. It's reported and written by Hussain Ali Haidari.






Photo Credit:  ACS

# په ۲۰۲۴ کال کې د مینه‌سوتا افغان کلتوری مرکز؛ ننګونې او لاسته راوړنې

- د کډوالو خوبونه ربښتیا کول
- ځینې تر ټولو سترې ننګونې نږدې دی
- ډونالډ ټرمپ د کډوالو پر ضد څرګند دریځ غوره کړ

Illustrator Credit: CVT

**په ۲۰۲۴ کال کې د مینه‌سوټا افغان کلتوری مرکز؛ ننګوني او لاسته راوړنې**

په ۲۰۲۴ کال کې، د افغان کلتوري مرکز یا ACSخپل پروګرامونه پراخ کړل، نوي او په زړه پورې ملګرتیاوې یې پیل کړې، او د راتلونکي ودې او پرمختګ لپاره یې بنسټ کېښودی. په لاندې برخو کې، موږ دخپلو لاسته راوړونو څیني بیلګو ته کتنه کړي ده او او د دوی د ښه شیبو په اړه د ټیم دغړو نظرونه هم د ځان سره لرو. د ښځو ټیم د خپل پروګرام دویم کال د خیاطۍ له یوه ټولګي څخه پیل کړ، چې پکښې ۲۹ ښځو ګډون وکړی وه. د دې ټولګي د لا ډېرو کسانو لپاره د لاسرسي وړ کولو لپاره، د ماشومانو پالنې خدمتونه هم چمتو شوي وو چې ۲۷ ماشومان یې پوښښ کړل. درسي ورځې د خوښۍ او انرژۍ ډکې وې، ماشومان رنګارنګ انځورونه جوړول او لوبې یې کولې، په داسې حال کې چې میندې په خپلو پروژو کار کاوه یا له ښوونکي د خپلو کارونو د پایلو په اړه نظرونه ترلاسه کول. د جون په میاشت کې، د مینه‌سوټا پوهنتون په همکارۍ د لامبو وهلو ټولګي پیل شول چې د خلکو ډېره غوښتنه ورته وه، او په پایله کې پرېکړه وشوه چې د دې ټولګیو بل پړاو په نومبر او ډسمبر کې هم ترسره شي. په درې پړاوونو کې، ۶۷ کسانو ګډون وکړ، په داسې حال کې چې میندې په لامبو بوختې وې او ۱۴ ماشومان په جلا فعالیتونو کې برخه اخیسته. زهرا واحدي وایي: «دا د خوښۍ خبره وه چې ښځې له پروګرامونو څخه خوند اخلي او یو بل سره ننښلوي زموږ په ټولنه کې ډېری ښځې له خپلو ملګرو او کورنۍ څخه لرې دي، او دا پروګرامونه به دوی له دې واټن او انزوا څخه خلاص کړي.» د نارینه وو ډله هم په دې کال کې فعاله وه او د ښه راغلاست له مېلمستیا سره یې پیل وکړ، ترڅو دوی ته فرصت ورکړي چې دفتر ته سفر وکړي، له اسانتیا ورکوونکو سره وګوري، او یو بل وپیژني! نارینه وو د کال په لومړۍ نیمایي کې د شطرنج په کلب کې او په دویمه نیمایي کې د والیبال په ټیم کې برخه واخیسته. تنکي ځوانانو هم په رواني روغتیا ټیم کې هم برخه واخیسته، چې پکې د ارواپوهنې زده کړه، د کرکټ لوبې، او د اوبو سپورټ ټولګي شاملي وې. په ۲۰۲۴ کال کې مو د ماشومانو د زده کړې د پیاوړتیا او هغوی ته د خپلې مورنۍ ژبې سره د اړیکې ساتلو لپاره د ځوانانو د ذهني روغتیا پروګرام پیل کړی. په جون کې، موږ د پنځو څخه تر لسو کلونو پورې ماشومانو لپاره د دري او پښتو ژبې ټولګي معرفي کړل. د ټولګیو په لومړي پړاو کې، ۴۵ زده کونکو ګډون وکړ، د درسونو په دوهم پړاو کې د ماشومانو لپاره د دري او پښتو ژبې ټولګي شامل وو، پداسې حال کې چې د دوی میندې د انګلیسي ژبې ټولګیو ته تللې. په دې کورس کې ۴۳ ماشومانو او ۱۲ میندو برخه اخیستې وه. د دې روزنیز کورس سره په ورته وخت کې، ګډونوالو د شکنجې قربانیانو د ملاتړ مرکز سره په همکارۍ د رواني روغتیا په ډله ایزه روزنه کې برخه واخیسته. د ذهني روغتیا ټیم له ۳ زره څخه ډېر د ماشومانو او ځوانانو کتابونه ټول کړل او د جولای په میاشت کې د «وړیا ګرځنده کتابتون» په همکارۍ د کتابونو د وېشلو طوه غونډه ترسره شوه.

د روغتیایي خدماتو لاربښوونه

عاطفه توسلي، چې د روغتیایي خدماتو لاربښوونکې ده، د ۲۰۲۴ کال «د ستونزو او لاسته راوړنو یو زړه راښکونکی ترکیب» وباله. هغه د «شمالي امریکا د کډوالو روغتیا کنفرانس (NARHC) کې له خپلو همکارانو سره د ناستې له تجربې خوند واخیست او ویې ویل چې د ګډونوالو د مقاومت او قرباني کیسې د الهام سرچینه وې.خو سرکال د هغه تر ټولو غوره شیبه هغه وه کله چې هغه وکولای شول چې یو مراجع سره مرسته وکړي چې «د ۳۰زرو ډالرو څخه ډېر طبي لګښتونه ترلاسه کړي او د هغه له اوږو څخه لوی بار لرې کړي.»

دوسیې مدیریت

د افغان کلتوري مرکز د قضیې کارکوونکي سږکال ډېر بوخت وو، او په مختلفو برخو کې یې له ۴۰۰ څخه زیاتو مراجعینو سره کار کاوه. د موټر چلولو جواز ترلاسه کول د ټولنې لپاره خورا مهم وو، او زموږ ټیم وکولای شول چې ۹۹ مراجعینو سره د دوی د موټر چلولو ازمویني پلان کولو کې مرسته وکړي، چې له دې جملې څخه ۴۰ یې د دوی د جوازونو په ترلاسه کولو کې بریالي شول.

انور جمالي د موټر چلولو د جواز د ازموینې د چمتووالي آنلاین ټولګیو ته دوام ورکړ، او د مینیسوټا څخه له ۱۵۰ څخه زیاتو خلکو د کال په اوږدو کې په دې ټولګیو کې برخه واخیسته. ناصر محمدي د مراجعینو سره د «پیچلو مسلو» په اړه د کار کولو یادونه کوي، پشمول د افرادو سره د مدني او مهاجرت قضیو لپاره د سم قانوني مشاور په موندلو کې مرسته کول.

سارا قریشي په ویاړ سره هغه بریا یادوي چې هغې د یو مراجعینو سره د مرستې له لارې ترلاسه کړې وه. دې مراجعې، چې د کال په پیل کې د رواني روغتیا ستونزو سره مخ وه، پریکړه وکړه چې د افغان کلتوري مرکز د ښځو په حلقه کې برخه واخلي. هغه وروسته وویل چې دې کار هغه سره د ښه احساس کولو کې مرسته وکړه او هغه د افغان کلتوري مرکز (ACS) د ملاتړ څخه خوښ ده.

ادامه ...

رادیویي خپرونه او خبرپاڼه

د مارچ په میاشت کې، د افغانانو کلتوري مرکز (ACS) د ساهان مجلې او د شکنجې قربانیانو د ملاتړ مرکز په همکارۍ د «نوي کور» پراخه اوونیزخبر پاڼه پیل کړل. دا اونیزه خبرپاڼه د حسین حیدري له خوا اداره کېږي او د امریکا په متحده ایالاتو کې مېشتو افغانانو ته وړاندې کېږي. د جولای په میاشت کې، د افغانانو کلتوري مرکز (ACS) د رحیم روستایي په نوم افغان شاعر او خبریال د مېلمه لیکوال په توګه راوباله. حسین حیدري وویل: «موږ یو افغان خبریال د ځان سره ګومارلی چې د طالبانو د محدودیتونو له کبله یې هیڅ عاید نه درلودی هغوی زموږ لوستونکو ته دلته په مینه سوټا کې هغه مهم موضوعات وړاندې کوي چې د ننه په افغانستان کې ترلاسه کړي دي.» له هغه وخته چې رحیم روستایي د «نوي کور» سره یوځای شوی، هغه د طالبانو له خوا پر افغانانو د محدودیتونو د قوانینو په اړه لیکنې پیل کړي، او اوس مهال د افغانستان د بېلابېلو قومونو او د هغوی د تاریخ په اړه ژورې مقالې لیکي او د نوي کور په اوونیز پاڼه کې ۱۰۷۲ ګډونوالو ته خپرېږي.

د ښځو نړیواله ورځ او راډیویي خپرونه

د مارچ په ۸مه نېټه، موږ د ښځو نړیواله ورځ د دفتر دننه ښځو لپاره ځانګړې مېلمستیا او په ټولنیز راډیو (KFAI) کې د ځانګړې خپرونې په جوړولو سره ونمانځله. په دې خپرونه کې د افغان ښځینه مشرانو ګډون او مرکې شاملې وې، لکه زهرا نظري، د "ښځې په ټکنالوژۍ" د افغانستان ځانګړې مشره، او سومیه عیار، ښوونکې او د الهام تعلیمي مرکز مدیره ده دا خپرونه زموږ د اونیزې راډیویي خپرونې "آواز" لپاره مقدمه وه چې د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر له میاشتې هره یکشنبه خپرېږي. «آواز» د افغانانو سره پر بېلابېلو برخو مرکې کوي او د هغوی لپاره مهمو موضوعاتو په اړه خبرې کوي.

دا خپرونه د عاطفه توسلي له خوا وړاندې کېږي.

تعلیمي مشاورین

په ۲۰۲۴ کال کې، موږ خپلو ځوانو غړو ته د تعلیمي اهدافو په ترلاسه کولو او د تعلیمي سیستم له ننګونو سره د مبارزې په برخه کې ملاتړ ته دوام ورکړ. موږ له ۳۰ څخه زیاتو هغو کسانو سره مرسته ورکړه چې په بهر کې یې زده کړې بشپړې کړې وې، ترڅو اسناد یې ارزول شي او دوی خپل تحصیلات ته دوام ورکړي یا په خپله خوښه رشته کې دنده پیدا کړي. سربېره پر دې، د فدرالي حکومت د تحصیلي پورونو پروګرام (FAFSA) د هغو افغانانو لپاره موجود دی چې د سپتامبر ۲۰۲۱ او سپتامبر ۲۰۲۳ تر منځ امریکا ته رسېدلي دي. د افغانانو کلتوري مرکز (ACS) د ګڼ شمېر غړو سره مرسته کړې چې د پوهنتون فیس په تخفیف یا وړیا ډول ترلاسه کړي. زموږ ټیم له ۱۰۰ څخه زیاتو زده‌کوونکو سره مرسته وکړه او د مینیاپولیس او سنت پال په ۴ ښوونځیو کې یې نږدې همکاري درلوده.

ټولنیزې پېښې

موږ د ټولنیزو غونډو په جوړولو سره د خپل مرکز د فعالیتونو لپاره مهم رول ترسره کړی،دا غونډې د کلتوري دودونو ساتنه، د ټولنې لپاره یو ټولنیز ځای برابرول او د افغانستان د هنر او کلتور په اړه د خلکو پوهاوی زیاتوي.په دې کال کې، د افغانانو کلتوري مرکز (ACS) د ګڼو مذهبي او کلتوري مناسبتونو په مناسبت بېلابېلې غونډې جوړې کړې، لکه د کوچنې اختر، نوروز، او د یلدا شپې لمانځنې. درې لویې غونډې د کوچني اختر او لوی اختر په مناسبت وې چې په ترتیب سره ۳۰۰ او ۴۰۰ ګډونوال درلودل. همدارنګه، زموږ دویم کلنی هنري فستیوال چې ۴۰۰ کسانو پکې ګډون وکړ، یوه بله مهمه لاسته راوړنه ده. سربېره پر دې، موږ د هنر په برخه کې بېلابېلې ورکشاپونه جوړ کړل چې د ګډون لپاره ټولو ته چانس ورکول شوي وه. ګډونوالو وکولای شول د افغانستان دودیز نڅا زده کړي، د دری شعر په اړه وینا واوري، د رباب زده‌کړې اساسات زده کړي، یا د سرامیکي هنري اثارو جوړول او ګلاب ورکول زده کړي.

راتلونکي ته هیله‌مندي

موږ د خپلې ټولنې له لا زیاتې باور او ملاتړ څخه مننه کوو. په داسې حال کې چې موږ خپلو موخو ته دوام ورکوو، د دې کال یادونه، اړیکې او زده‌کړې به تل له ځان سره ولرو.موږ په دې کال کې له ډېرو ننګونو سره مبارزه وکړه، خو لا هم څینې لویې ستونزې مخې ته دي، منتخب ولسمشر او راتلونکی حکومت د مهاجرت ضد څرګند دریځ لري او غواړي داسې سیاستونه عملي کړي چې که پلې شي، د میلیونونو خلکو قانوني او بشري حقونه به تر پښو لاندې کړي. که څه هم موږ دقیقاً نه پوهېږو چې څه به پېښ شي، موږ پوهېږو چې د مهاجرینو د ملاتړ او د هغوی د ټولنیز ځای دفاع لپاره باید لا زیات کوښښ وکړو. موږ هیله لرو چې تاسو هم زموږ ترڅنګ ودرېږئ.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**